دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت خلورم کال، ۵۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۵۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د وری ۱۲ مه د۱۴۳۳ هـ ق د جمادی الاول ۱۲ مه د۲۰۱۲ م د اپریل ۴ مه

PROPERTY OF ACKU

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

ابوهریره (رض) می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «خداوند عز وجل می فرماید: هرگاه، بنده ام نیت کرد که کار بدی انجام دهد تا زمانی که مرتکب آن نشده است، برایش ننویسید. و اگر مرتکب آن شد، فقط یک بدی برایش بنویسید. و اگر آنرا بخاطر من ترک کرد، برایش یک نیکی ثبت کنید. و اگر قصد انجام عمل نیکی را کرد ولی آنرا انجام نداد، برایش یک نیکی بنویسید. و اگر آنرا انجام داد، ده تا هفت صد برابر نیکی برایش بنویسید. (صحیح البخاری)

د ښوونې د سکتور له چارواکو نه د کانکور په اړه پوښتنې وشوې

کابل، رسنی:
د افغانستان ولسي جرګې د سې شنبې په ورځ خپله عمومي غونډه تر ډېره د کانکور ازموینې د نتایجو په اړه د لوړو زده کړو او پوهنې وزارت له مسؤلینو سره بحث ته ځانګړې کړې وه.
د کانکور د سږنیو نتایجو له اعلان وروسته اکثره وکیلانو دا انتقاد کاوه، چې د کانکور بهیر یو ځلې بیا د بې عدالتی ښکار شوې او یو ځلې بیا یو زیات شمیر زده کوونکي بې نتیجې پاتې دي.
داسې ښکاري، چې د ولسي جرګې د غړو فشارونه هم د هغو په زرګونو زده کوونکو ستونزې هوارې نه کړای شي، چې د کانکور په ازموینه کې بې نتیجې پاتې دي.
دې جرګې د سه شنبې په ورځ خپلې عمومي غونډې ته د لوړو زده کړو وزیر او د پوهنې وزارت مرستیال وربللي وو، څو د کانکور ازموینې د نتایجو په اړه خپلې اندیښنې ورسره شریکې کړي او د حل لارې ورته ولټوي.
که څه هم د جرګې د غړو پرله پسې فشارونو ونه کړای شول، چې د موجوده ستونزې د حل لپاره کومه لار پرانیزي، خو په پای کې ځینې سپارښتنې وړاندې شوې، څو لږ تر لږه د انجونو په سهمیې کې د اندول د رامنځ ته کولو سبب شي.
د جرګې لومړي مرستیال حاجي ظاهر قدیر،

پاتې ۳ مخ

افراد جدید به حیث والیان چهار ولایت افغانستان تعیین شدند

داکترمحمداکرم خپلواک به حیث والی فراه، طاهرخان صبری والی لوگر، امیر محمد آخندزاده والی ارزگان وعبدالجبار حقبین به حیث والی سرپل تعیین شده اند

کابل، رسانه ها:
والیان فراه، لوگر، ارزگان و سرپل در حالی تبدیل شده اند، که به اساس گزارش ها، در این اواخر شکایت ها از شماری از والیان افزایش یافته است.
هرچند برخی از منابع در اداره، مستقل ارگان های محلی می گویند، این تغییر ارتباطی با این شکایات دارد، اما مسوول بخش رسانه های این اداره، تبدیل شدن والیان فراه، لوگر، ارزگان و سرپل را یک پروسه، عادی می خواند.
سید انتظار خادم مسوول رسانه های اداره مستقل ارگان های محلی به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی، ابراز امید واری کرد که با ایجاد این تغییرات، والیان بتوانند رضایت مردم را کسب کنند:
"ما آرزو داریم قسمی که این افراد در و سال گذشته برای ملت خود کار کرده اند، در سال های آینده نیز با استفاده از هنر، تجربه و

بقیه در صفحه ۳

ناتو به جدول زمانی تعیین شده در لزبن متعهد باقی می ماند

کابل، رسانه ها:
سرمنشی پیمان اتلانتیک شمالی یا ناتو به روز دوشنبه تسریع خروج نیرو های رزمی آن پیمان را از افغانستان رد کرده است.
اندرس فوگ راسموسن تاکید کرده است، پیمان ناتو به جدول زمانی قبلاً تعیین شده در اجلاس ماه نوامبر سال ۲۰۱۰ در لزبن متعهد باقی خواهد ماند.
اندرس فوگ راسموسن سرمنشی پیمان اتلانتیک شمالی یا ناتو به خاطر روشن ساختن ابهام به میان آمده در زمینه، موعد خروج نیروهای آن پیمان از افغانستان گفته است، پیمان ناتو به جدول زمانی قبلاً تعیین شده در اجلاس ماه نوامبر سال ۲۰۱۰ در لزبن متعهد باقی خواهد ماند.
این اظهارات در شرایطی صورت می گیرد که برخی مقامات افغان وغربی در مورد سال

بقیه در صفحه ۳

ملا ضعیف د سولې د خبرو د لارې اوارولو لپاره په دوبۍ کې مېشت شو

مولوي ضعیف غواړي چې طالبان د افغانستان له حکومت سره مخامخ خبرو ته وهڅوي

تاند:
د افغان اسلامي اژانس د راپور له مخې د طالبانو د واکمنۍ په موده کې په پاکستان کې د افغانستان سفیر مولوي عبدالسلام ضعیف له کابل څخه وتلی او په متحده عربي اماراتو کې مېشت شوی دی.
د پاکستان (پاک ټریبیون) انګریزي ژبې ورځپاڼې راپور ورکړ چې افغان اسلامي اژانس ته باوري سرچینو د یکشنبې په ورځ وویل چې ملا ضعیف د خپلې کورنۍ له غړیو سره نژدې یوه اوونۍ دمخه دوبۍ ته تللی دی.
دې سرچینو دا هم ویلي چې متحده عربي اماراتو ته د مولوي ضعیف د لېږدېدو هدف دا دی چې د طالبانو او د افغانستان د حکومت ترمنځ د سولې د خبرو په تنظیمولو کې رول ولوبوي.
د افغان اسلامي اژانس د راپور له مخې سرچینو وویل، مولوي ضعیف غواړي چې طالبان د افغانستان له حکومت سره مخامخ خبرو ته وهڅوي او په دې ډول د افغانانو ترمنځ د خبرو له لارې د افغانستان شخړه حل کړای شي.
مولوي ضعیف په پاکستان کې د طالبانو د اسلامي امارات سفیر و خو د طالبانو د رژیم

پاتې ۴ مخ

هغه تعلیم به څه کړم چې عمل وربانديې نه کېږي!

محمد خلیل

دویم مخ

دکابل د دوو لېسو د کانکور پایلو دغه ازموینه تر پوښتنې لاندې راوستې ده

پژواک رپورت

دویم مخ

خبریالان:

طالب ویندویان تر حکومتي هغو ډېر مطبوعاتو ته ژمن دي

کابل، رسنی:
افغان خبریالان له حکومتي ویندویانو شکایت کوي، وایې چې په ډېرو مواردو کې له خبریالانو ځانونه پټوي او د پیښو په اړه مالومات نه ورکوي.
دمګړي د افغان دولت ټول وزارتونه، والیان او د مستقلو ادارو مشران ویندویان لري چې په زرهاوو ډالره معاش اخلي.
د ویندویانو نه همکاري له تیرو څو کلونو راهیسي د خبریالانو لپاره په یوه سرخوږي بدله شوې او تر ډېره بریده هغوی نه شي کولای چې پر مهمو مسایلو د خپلو راپورونو د توازن لپاره د حکومت دریځ ولري.
په کندوز کې د زهرې راډیو یوې خبریالې چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي تاند ته وویل چې دوی په ډېرو مواردو کې له حکومتي ویندویانو څخه د ځینو مسایلو لپاره د نظر د اخیستلو غوښتنه کړې خو ویندویان یا د دوی ټلیفوني ارتباط پرې کوي او یا هم له

پاتې ۴ مخ

د نارنج ګل مشاعره د ګڼوډۍ ښکار شوه

(۴ مخ)

شاروالی کابل به کدام یک اولویت دهد ترمیم جاده ها یا آبادی قصرها؟

دوکتور محمد انور

با آنکه آبادی دوباره قصرهای ویران شده دارالامان، چهل ستون و تپه تاج بیگ در کشوری که از همه آبادی های تاریخی محروم گردیده است از افتخارات تاریخی بحساب می رود که همه مردم ما به آن دلبستگی دارند که روزی دوباره آنرا به پا ایستاده بینند که آرمان آگاهان و دردمندان وطن به سر می رسد و شاروال صاحب کابل افتخار تاریخی ای را که در تلاش آنست نصیب می شود و این کار با آباد شدن جاده های شهر کابل تضاد و تقابلی ندارد. این کار بودجه، فصل و بابی دارد و آن هم بخشی بودجوی جداگانه، چه بسا که اهل خیر و علاقمندان به آثار تاریخی وطن برای اعمار دوباره این قصرها از پرداخت اعانه نقدی نیز دریغ نکرده اند.
آنچه عرصه زندگی را بر مردم ما تنگ ساخته است جاده های داخل شهر کابل است که مسؤولیت عمده و اولین شاروالی بشمار می رود.
جاده های موجوده شهر نفس راحت را بر مردم ما تلخ ساخته است و

بقیه در صفحه سوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

امریکا له افغانستانه د خوندي وتو په لټه کې ده

په نړیوالو رسنیو کې د افغانستان په هکله د نظر د خاوندانو ګمان دا دی چې امریکا او ناټو غواړي له افغانستانه خپلې پښې سپکول غواړي او داسې لارې چارې لټوي چې په پرامن ډول له افغانستانه ووځي نو ځکه له خپلو مخالفینو سره د خبرو اترو په لټه کې دي تر څو داسې یوه لاره پیدا کړي چې کله له افغانستانه خپل پوځیان راوباسي، نو په لاره کې دهغوی پر پوځي قطارونو او وسائلو برید ونشي او په آرامه فضأ کې د افغانستان له خاورې نه ووځي. که څه هم په افغانستان کې ځینې ډلې ټپلې د امریکایي پوځونو پر وتلو خپه دي او غواړي چې امریکا او نړیواله ټولنه تر اوږدې مودې په افغانستان کې پاتې شي مګر نړیوالې ټولنې او په ځانګړي توګه امریکا په لس کلنه جګړه کې زیات ځاني او مالي تاوانونه لیدلي چې له دې وروسته به په افغانستان کې د اوسېدو شیمه ونه لري ځکه چې په روانه جګړه کې د امریکا کلنې لګښت له سلو اربو ډالرو نه اوړي چې دې ملا ماتوونکی جګړې د امریکا نږدې ۸۲ بانکونه یې دیوالیه او کنګال شوي دي. اروپا هم له همداسې بد حالت سره لاس او ګریوان ده، د امریکا او اروپا اوسېدونکي له دغه بې مقصده او بې ګټې جګړې نه ستړي دي، هلته د بې روزګارۍ کچه لوړه شوې او د خلکو پر ژوند یې ډېره بده اغیزه شیندلې، که چېرته دا جګړه یو څو کاله نوره هم دوام وکړي نو په امریکا او اروپا کې به یو لوی او له قابو وتلی اقتصادي بحران رامنځته شي، چې د امریکا او اروپا ولسونه به تر ډېرې مودې تاوان ورکړي، همدا لامل دی چې امریکا د پاکستان له لارې د وتلو هلې ځلې پیل کړي دي، د یو امریکایي جنرال پریزر په وینا ددې خبرې اړتیا ده چې پاکستان په دې قانع کړي شي چې د امریکایي پوځونو د وتلو لپاره خپلې لارې خلاصې کړی، که نه نو له افغانستانه د امریکایي پوځونو وتل ناشوني دي. جنرال پریزر د روسیې له لارې د خپلو پوځیانو او نورو مهماتو د ویستلو په اړه وایي چې امریکا لپاره به دا ډېره ګرانه او ملاماتوونکې تمامه شي.

امریکا او ناټو هېوادونه که له یو لورې له پاکستان سره د لارې د خلاصولو غوښتونکي دي له بله پلوه له مخالفینو سره هم د روغې جوړې کوښښونه پکار اچولي دي چې وکولی شي له افغانستان نه د وتلو په وخت له ځاني او مالي تاوان سره مخامخ نه شي، اوس نو ددې خبرې انتظار دی چې امریکا به کله د خپل مقصد په ترلاسه کولو کې بریالۍ کېږي؟.

هغه تعلیم په څه کرم چې عمل ورباندې نه کېږي!

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
Email: ahmadshahwahdat@yahoo.com

محمد خلیل

په انقلابونو کې لوېدلی د یو مزدور کار او معلم ترمنځ په څه خبره لفظي شخړه وشوه، معلم مزدور ته جاهل او بې ادب وویل، خو مزدورکار ورته دا ځواب ورکړ چې ته له مانه زیات جاهل او بې ادبه یې، هغه تعلیم او پوهه به څه کړم چې عمل ورباندې نه کېږي که تاسو پخپل علم او پوهه عمل کړی وای افغانستان به له دې بدحالت سره نه و مخامخ شوې، موږ جاهلانو نه ستالین پېژنده او نه لینن، نه مو اخواني پېژنده او نه هم خلق، پرچم او افغان ملت، خپل کار او بار مو کاو او په آرامه به مو شپې ورځې تېرولې، همدا تاسې تعلیم یافته وئ چې هېوادوال مو په ګنو ډلو ټپلو ووېشل، پر یو بل مو کودتاګانې وکړې، څوک د روسانو بنده ګان شول او څوک د هندوانو، څوک د چین خېره خواره شول او څوک د غربیانو، څوک کمونستان شول او څوک مسیحیان، پرون هم دا هېواد د تعلیم یافته و له لاسه وران شوې او نن هم ستاسې له لاسه ورانېږي.

مزدور، دهقان او کسبه کار پرون هم د خپل هېواد په آبادۍ کې خولې بهیولې او نن یې هم بهیوي، موږ نه روسانو ته د هېواد د اشغال بلنه ورکړې او نه هم امریکایانو ته، همدا تعلیم یافته دي چې هرې ګناه ته ملاتړلې ده، موږ مزدورانو، دهقانانو او کسبه کارو کله هم پخپلو کارونو کې اختلاف نه دی کړې او له یو بل سره په مینه او محبت کې وخت تېروو، خو تاسې تعلیم یافته او د علم خاوندان کله هم د اتفاق او یووالي په ټغر ناست نه یئ همېشه مو د یو بل د پرزولو کوښښ کړی دی.

زموږه جاهلانو د خدمت او خېرښېګړې ثبوتونه هر چېرته موجود دي، په بازارو کې چې څومره خوراکي څیزونه تر سترګو کېږي دا ټول د دهقان د خوارۍ او محنت ثمر دی، څومره کورونه او بلډنګونه چې جوړ شوي په دې کې د مزدورانو لاسونه تڼاکي شوي دي. هر چېرته چې کراچی، زنځیرونه، چړې، چاقو، سیخونه، ورونه، دروازې، کودالې، بیلچې، دیګونه، چای جوشونه، بخارۍ، منقلونه، کټونه، پالنګونه او نور څیزونه لیدل کېږي ددې جوړوونکي ټول ما غوندې جاهله کسبه کاران او مزدوران دي.

تاسې پوهانو او پروفیسرانو داسې کوم خدمت کړی دی چې ملت ته ګټه، راحت او سکون وربخښلی وي، د نړۍ د نورو تعلیم یافته و په څېر د افغانستان وګړو ته مشینونه، موټرې، جهازونه، کمپیوټرونه، مخابرې، موبائل او د ژوند نور ضروري شیان مو چمتو کړې وي، که د نورې نړۍ تعلیم یافته پخپل تعلیم او سواد فخر وکړي حق په جانب دي، هغوی خپل ولس او نورو انسانانو ته د خپل علم ثمرات او ګټې رسولې دي، خو برعکس د افغانستان تعلیم یافته و خپل علم او پوهه د خپل هېواد د تجزیه کولو، سیاسي او مذهبي اختلافاتو کې له ککړولو پرته نور څه کړي دي؟ !

په لویو او وړو دولتي ارګانونو کې اداري فساد چا عام کړی دی؟ په ملیونو ډالرې چا غلا کړي دي؟ اقربا پروري څوک کوي؟ د رشوت او درغلی بازار چا ګرم کړی دی؟

د رنګ، ژبې او نسل پرستي لغت چا ایجاد کړی دی، د اقتدار په سر جګړې چا پیل کړي دي دا دومره زیات ګوندونه او تنظیمونه چا جوړ کړي دي؟ جلا جلا مرامنامې، شعارونه او دریځونه چا رواج کړي دي؟ !

که چېرته واقعاً تعلیم د هر بدي مخه نیولې شي او هر ورانې جوړولې شي نو بیا ستاسې تعلیم په افغانستان کې ولې ناکام شوې؟ آیا تعلیم مو ناقص دی او که عمل ورباندې نه لرئ، موږ دهغه تعلیم یافته ناز او نخرې څنګه ومنو چې پخپل ټول ژوند کې خپل ولس ته له غم، درد، تفرقه او جګړې پرته بل څه نه دي ورکړي، په ولس کې به دهغه تعلیم یافته څه قدر او قیمت وي چې خپل علم ایله د خپلو خلکو د استحصال لپاره مصرفوي، که د تعلیم همدا مطلب او مقصد وي بیا خو لدېنه جهالت هم څو څو وارې ښه دی چې لږ تر لږه په ډېرو چلونو او نیرنګونو خو نه پوهېږي. جاهل او ناپوه خوبه هله د تعلیم یافته و لاسونه او پښې ښکل کړي وای چې هغوی ټولنې ته د علم او پوهې حقیقي فیض او ګټه وربخښلې وای، جاهلان یې د جاهلیت له تیارې نه د رڼا په لاره برابر کړي وای له بدبختي او شقاوت نه ورته نجات ورکړی وای، د عدل، انصاف، ورورولي، همدردي، عاطفی او ایثار ښکلې موسم یې ورته راوستې وای.

د تعلیم په غرور کې اخته استازه ! زما دا خبره په غور واوره چې ته اوس هم زما د جاهل د خوارې، خولو او د لاس د تڼاکو په برکت په مړه ګېډه ډوډۍ او میوه خورې، همدا جاهل مزدور دی چې درته د ژوند ګڼ ضروریات یې برابر کړي دي خو ستا د تعلیم ثمر لا تراوسه د افغانانو یو مشکل هم نه دی حل کړی، مهرباني وکړه د نورې نړۍ د تعلیم یافته و په څېر پخپل علم عمل وکړه او د عمل په ډګر کې خپل ولس ته د علم ګټې ورسوه، هله به درته، اتساذ، معلم، ډاکتر، انجنیر، پروفیسر، سیاست پوه، اقتصاد پوه او داعي ووایم، قدر دې وکړم او لاسونه دې ښکل کړم.

په دې کې هیڅ شک نشته چې علم او پوهه د انساني ټولنې ستر ضرورت دی او لدې پرته د ژوند په یو ډګر کې هم پرمختګ نشي کېدلې او نه هم له احتیاج او ګدایي څخه خلاصون ممکن دی، خو پوښتنه داده چې آیا په افغانستان کې د علم خاوندانو خپلې ټولنې او هېوادوالو ته هغه ګټې او رښاګانې ورسولې چې ورته پکار وو او که خپل علم او استعداد یې د خپل ولس په خلاف او تاوان استعمال کړ؟ زمکني حقایق په دې خبره ګواهي ورکوي چې د افغانستان تعلیم یافته و تر اوسه پورې خپل صحیح مسؤولیت نه دی پېژندلې او تر اوسه پورې چې څومره تاوان غټو غټو پروفیسورانو، علماو او د لوړو تحصیلاتو سند لروونکو رسولې بې سوادو او عامو وګړو نه دی رسولې، که د ټولنې تعلیم یافته خپله پوهه د ولس په ګټه نشي استعمالولې نو نالوستي ته د جاهل طعنه ورکول هم پخپل ځای جهالت دی.

د کابل د دوو لیسو د کانکور پایلو دغه ازموینه تر پوښتنې لاندې راوستې ده

پژواک:

شنونکي وایي، که اړوند وزارت د لوړو زده کړو موسسو ته د "عبدالرحیم شهید "او "معرفت "لیسو د شاوخوا ۹۰ سلنه زده کوونکو د بریا په اړه د قناعت وړ ځواب ونه وایي، نو د کانکور پایلې به تر پوښتنې لاندې راشي.

د تېر کال د کانکور ازموینې له ۱۴۷زره ګډونوالو څخه ۴۰زره تنه، چې د ټولو ګډونوالو څه باندې ۲۷سلنه جوړوي، د لوړو زده کړو دولتي موسسو ته جذب شول.

خو د کانکور په یاده ازموینه کې د کابل ښار د دشت برچي سیمې اړوند د عبدالرحیم شهید د دولتي لیسې له ۶۴۸ ګډونوالو څخه ۵۸۰ یې او د همدې سیمې اړوند د معرفت د خصوصي لیسې له ۵۲ ګډونوالو څخه ۴۹ یې د لوړو زده کړو دولتي موسسو ته د لوړو نومرو په اخیستو بریالي پېژندل شوي دي.

پژواک خبري اژانس د یادو دوو لیسو د ټولو بریالیو زده کوونکو نومرو ته لاسرسی پیدا نه کړ، خو پژواک ته د عبدالرحیم شهید لیسې د ۱۶۸ تنو بریالیو زده کوونکو رسېدلې نوملړ ښیي، چې له دغو کسانو څخه ۳۳ تنو یې له ۲۹۳ تر ۳۰۰او پاتې ۱۳۵ تنو یې ۳۰۰او یا تر هغې لوړې نومرې ترلاسه کړې دي.

دغه راز د معرفت لیسې د ۳۱ تنو بریالیو زده کوونکو یو نوملړ ښیي، چې له دغو څخه ۲۸ تنو ۳۰۰او له هغو پورته نومرې او دریو نورو یې د ۲۹۶ په شاوخوا کې نومرې خپلې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده، چې د کانکور په یاده ازموینه کې د لوړو زده کړو موسسو ته د کابل ښار د ډېرو مشهورو او پرمخ تللو لیسو د بریالیو کسانو سلنه هم د یادو دوو لیسو د بریالیو کسانو تر سلنې کمه ده.

د کابل ښار د حبیبیې لیسې مدیر شاه لالا بکاولي پژواک خبري اژانس ته وویل، د دې لیسې د هغو زده کوونکو د شمېرې په اړه، چې د تېر کال د کانکور په ازموینه کې د لوړو زده کړو موسسو ته بریالي شوي ، کره معلومات نه لري، خو هیله من دی چې ۴۰ سلنه به یې بریالي شوي وي.

دی وایي، چې وړم کال هم د دې لیسې د ۱۲مو ټولګیو د ۱۵۰۰ فارغانو ۴۰ سلنه د لوړو زده کړو موسسو ته بریالي شوي وو.

د سرچینې د څرګندونو له مخې، د حبیبیې لیسه ۱۱۰ کاله مخکې جوړه شوې او له ۲۶۰ ښوونکو څخه یې لس د ماسترۍ او ۱۹۰ یې د لسانس تر کچې زده کړې لري او پاتې نور یې د ۱۴ټولګیو فارغان دي.

دغه راز په کابل ښار کې د استقلال په نوم د بلې مشهورې او پخوانۍ لیسې مدیر سیدناصر عسکرزاده وایي، سره له دې چې دغه لیسه د کورنیو مسلکي ښوونکو ترڅنګ فرانسوي ښوونکي او سلاکاران لري، خو د تېر کال په کانکور کې یې د لوړو زده کړو موسسو ته د بریالیو زده کوونکو سلنه د عبدالرحیم شهید او معرفت له لیسو کمه ده.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، د کانکور په یاده ازموینه کې د دې لیسې له ۳۱۰ تنو ګډونوالو څخه ۲۵۰ یې، چې د ټولو ګډونوالو څه باندې ۸۰ سلنه جوړوي، د لوړو زده کړو موسسو ته بریالي شوي دي.

دی وایي، چې دغه لیسه درې مجهز لابراتوارونه لري او له ۱۳۳ ښوونکو څخه یې څلور ښوونکي د ماسترۍ او ۸۵ نور یې د لیسانس تر کچې زده کړې لري او پاتې نور یې د ۱۴ټولګي فارغان دي.

د ده په وینا، په دې لیسه کې هغو زده کوونکو ته، چې په کوم مضمون کې ستونزه ولري، د یو پلان له مخې د استادانو له خوا په وړیا ډول ځانګړې زده کړې هم ورکول کېږي.

دی د عبدالرحیم شهید او معرفت لیسو د بریالیو زده کوونکو شمېره د پوښتنې وړ بولي او د هغوی امکاناتو ته په کتو سره وایي: "دا له امکان نه لرې ده، چې په دې کچه شاګردان کامیاب شي."

پژواک هڅه وکړه چې د یادو دوو لیسو د دوولسمو ټولګیو د فارغانو د یوولسم او لسم ټولګي د ازموینې نومرې د هغوی د کانکور د ازموینې له نومرو سره مقایسه کړي.

خو د کابل ښار د پوهنې مشر نجیب الله کامران په دې اړه د معلوماتو له ورکولو ډډه وکړه او ویې ویل: "د حقوقي له نقطې نظره، د یو چا نتایج د هغه خصوصي حریم دی."

شاروالی کابل به کدام یک اولویت دهد

ترمیم جاده ها یا آبادی قصر ها؟

(ادامهء از صفحه اول)

... مردمی که زندگی روزانه بر آنها ناگوار باشد برای آنها آبادی قصرها اهمیت ثانوی دارد. دیده باشید زمانی در مسیر راه چارراهی بره کی -خیرخانه، چارراهی ترافیک -خیرخانه، پولی تخنیک سیلو، جاده مسیر بادام باغ تا پروان دوم، جاده های داخل سرای غزنی ده بوری، کارته های ۳ و ۴ جمال مینه و ... در رفت و آمد باشید گمان می کنید راننده هر لحظه برای یک مصارعه آزاد در حال آماده باش است، پای او میان برک و کلچ در بازی است و افراد سوار وسیله نقلیه در این نقل و حرکت ها گاهی با عقب سیت ها و گاهی هم با سرو روی همجوار خود در تصادم اند زمانی هم اگر دریور بخواهد از کدام گند و چقری خود را در امان سازد و مسیر خود را تغییر دهد با وسیله ایکه از عقب او روان است به تصادم می افتد. اگر او خود را از تصادم نجات دهد سرو روی هم سفران خود را شکسته است و یا به آن ضربه شدید وارد آورده و چه بسا که حادثات ترافیکی زاده همین عمل و عکس العمل ها می باشد که در شهر پرنفوس کابل که پیش از ظرفیت بر آن تحمیل شده، حادثه آفرینی در آن هر لحظه به تیم حوصله مند خلاص گیر جنگ و پرخاش ضرورت دارد خاصتاً اگر راننده جوانکی بی لایسنس دریوری و ناآگاه از رموز ترافیکی باشد که از سرمایه های مافیائی والد صاحب موتر four runner سرف و یا لندکروزر Crussing زیر پا داشته باشد و از خیرات سر پدر با روابط وسیع از بازپرس و تعقیب هم معافیت داشته باشد و یا موتر با نمبر پلیت دولتی با دو نفر بادی گارد بهمراه داشته باشد و یا دریور تکسی که بخواهد برای رسیدن به هدف پرواز کنان جاده را بپیماید. بدا بحال مردم با ادب و اخلاق و نزاکت و قانون شناس که با چه مصیبتهائی روبرو خواهند بود.

اگر کسانی را مشکل امنیتی دوباره پا به فرار از وطن نسازد سؤ معاشره موترداران و رانندگان به تنگ خواهد آورد. ذوات محترمی که از کشورهای پیشرفته دوباره به وطن بر گشته اند و با چاهی و چقری مسیر جاده آشنائی ندارند خود و وسیله شان خساراتی بیشتری را متحمل می شود، جا دارد که گمان کنند شاروالی کابل از کمپنی های تولید کننده پرزه عراده جات مستمری دریافت میکنند تا وسایط در هر ماه یکبار به ورکشاپ ترمیم کشانیده شده هزاران افغانی پرزه های شکست و ریخت شده را تعویض بنماید.

اگر بپذیریم که آقای کرزی فاصله میان قصر ریاست جمهوری و مقر لویه جرگه را به هلیکوپتر می پیمایند اما معاونین او و بلندپایه گان دولتش همین جاده ها را همه روزه عبور و مرور می کنند یا باید عراده جات آنها چون گهواره راحت باشد و یا آنکه از نظامی که خود بر رأس آن تحمیل شده اند انتظار اصلاح و صلاح را ندارند که زبان به توصیه و اعتراض بکشایند، باید با فساد خو گرفته باشند، تا این نابسامی ها را خونسردانه تحمل کنند.

تا جائی که ما می دانیم اکثر این جاده ها در همین سالهای اخیر یعنی در زمان حضور نیروهای بین المللی و ممکن از کمک های بی دریغ آنها آباد شده باشد سوال اینجاست که چرا در این فرصت کوتاه دوباره این سرکها به ویرانه بدل شده است؟

شاروالی کابل تحت چه شرایطی آنرا آباد نموده، آیا هدف از آبادی آن همین رزق و برق نشان دادن یکی دو سال بوده یا برای چند سال با مقاومت بیشتر قرار داد شده اگر چنان باشد چرا مرجعی نیست که از شرکت خصوصی قرارداد کننده بپرسد که در این مدت کوتاه به چه دلیل استهلاک شده و اگر کوتاهی در حفظ و مراقبت باشد مسؤولین چرا به بازپرس کشانیده نمی شوند؟ تا دیگران از آن عبرت گیرند که این شهر ناپرسان نیست.

اگر درک مقامات مسؤول و عامه مردم این باشد که کنترول و مراقبت از نحوه و کیفیت کاری که شرکت های خصوصی آنرا انجام می دهند از حوصله نظام موجوده بیرون است. ریاست کار و ساختمان شاروالی را مجهز با وسایل و وسایط لازمه سازند و زمینه های جلب توجه و همکاری مساعدت کنندگان بین المللی به خدمات بنیادی آنها فراهم سازند تا این فاجعه در آینده تکرار نه شود.

هرگاه پس از ده و نیم سال حکومت رانی از آقای کرزی بخواهیم که بجای انتصاب شاروال زمینه های انتخابی شدن شاروال مورد اعتماد مردم را فراهم نمایند. نخست باید از آنهائی معذرت بخواهیم که با قبول همه خطرات و مشکلات به پای صندوق های رأی رفته اند ولی با انداختن برگه رأی آب در غربال ریخته اند و مناقشه روی اصلح نبودن منتخب و عدم شفافیت انتخابات افسانه بحث برانگیز مراجع ملی و بین المللی خواهد شد.

آنهائیکه با صحت عامه آشنائی محدود هم دارند می دانند که خاک هائی را که عراده جات به فضای کابل پراگنده مینمایند نه تنها عامل بزرگ امراض حساسیتی می تواند باشد مزید بر آن بنابر بی احتیاطی در جابجا نمودن فاضله ها و نبودن کانالیزاسیون از هیچ عامل مکروبی ای کمبود ندارد که نثار مردم ما می کند اتهام رابطه مرموز این بی اعتنیائی ها را از کمپنی های دواهای تقلبی و بیمارستانهای تجارتی نیز به مشکل می توان مرفوع شمرد.

عدهٔ تمنا می کنند که بجای این اسفلت ناقص و ناکاره کاش از ریگ و جغله پارچه شده صاف کوهپایه های وطن ما این جاده ها فرش می شد که راننده سرعت وسیله خود را متناسب با حالت جاده ثابت نگهمیداشت و ما مرهون احسان و سخاوت دیگران بر اسفلت ناقص جاده های شهر خود نمی بودیم. و پولی که به جیب مافیای اقتصادی ریخته و از وطن فرار کرده به هموار کاران این جاده ها از هموطنان محروم ما می افتاد و آنها در کشور خود با عزت بسر می بردند تا آنکه در سفارت های خارجی از صبح صادق تا زوال آفتاب برای یافتن ویزه کار انتظار می کشیدند و یا در سرحدات کشورهای همسایه مورد تعقیب، تهدید و شکنجه پولیس مرزی آنها قرار گرفته و تا زندان و پای دار و محاکمه برای اتهامات ناوارد قرار نمی گرفتند.

افراد جدید به حیث والیان ...

فکر خود برای این ملت کار های مفید نمایند، هیچ وقت در مقابل این ملت عکس العمل نشان ندهند، این تصمیم را اداره مستقل ارگان های محل و ریاست جمهوری افغانستان گرفته است، سابقه کاری، شخصیت و نفوذ محلی این والیان ایجاب می کرد و ما را مطمین می سازد که این افراد در کار های خود موفق خواهند بود."

به اساس گزارش ها، داکتر محمد اکرم خپلواک والی پیشین پکتیکا به حیث والی فراه، طاهر خان صبری معاون پیشین والی خوست به عنوان والی لوگر، امیر محمد آخندزاده والی ارزگان و عبدالجبار حقبین به حیث والی سرپل تعیین شده اند.

سید انور رحمتی والی سابق سرپل از جمله والیانی بود، که چندین بار ساکنان این ولایت در شکایت از وی به سرک ها ریختند و خواهان برکناری او شده بودند.

این که تغییرات جدید تا چه حد قناعت مردم را فراهم خواهد کرد تا حال معلوم نیست، اما قبل از این شماری از آگاهان این گونه تغییرات را یک عمل نمایشی خوانده اند.

احمد سعیدی یکی از کارشناسان افغان در صحبت با رادیو آزادی گفت، این چنین مقرری ها بر اساس اصل شایسته سالاری صورت نمی گیرد.

"من باور دارم که در افغانستان کار، لیاقت و اهلیت مطرح نیست، فقط خوشحال کردن افراد و اشخاص مطرح است. از جمله والیان افغانستان به باور من والی بلخ، هلمند، هرات و تا اندازه یی والی ننگرهار کار هایی کردند که باید آدم به دیده ی قدر بنگرد، دیگر والی ها اگر کاری کرده نتوانند حد اقل جیب های خود را پر می کنند."

یکی از انتقاد های اساسی از دولت افغانستان این است، که به ندرت چهره های جدید را در پستی معرفی می کند، در اکثر موارد کوشش میشود، تا به خاطر رضایت برخی ازافراد، یک شخص از یک جا به جای دیگر تبدیل گردد.

اما حکومت افغانستان این انتقاد ها را نپذیرفته و می گوید، هنگام گزینش افراد در پست های مهم دولتی، تمامی مسایل به شمول اصل شایسته سالاری در نظر گرفته می شوند.

ښوونې د سکتور له چارواکو...

چې د غونډې مشري یې کوله په دې اړه د جرګې سپارښتنې داسې بیان کړې.

"د نجونو د تبدیلی او د ۱۵ نمرو مرستو لپاره دې میکانیزم جوړ شي، د تجدید نظر لپاره میکانیزم او بلاخره د کانکور د شفافیت، لاسوهنو او نمیګړتیاوو په هکله ولسي جرګې ته بشپړ راپور وکړل شي.

د لوړو زدکړو بودجې ته دې خاصه توجه وکړي، بودجه دې ورته لوړه کړي، ترڅو په راتلونکې کې زموږ خوانان، خوېندې او ورونه له داسې مشکلاتو سره لاس او ګریوان ونه اوسیږي."

د جرګې له خوا دا سپارښتنې په داسې حال کې وړاندې شوې، چې اکثره وکیلان د کانکور له نتایجو خوښ نه وو او دوی د بې نتیجې پاتې کسانو د ستونزې د حل غوښتنه کوله.

د کانکور د ازموینې نتایج ښیي، چې د سږ کال لپاره د لوړو زده کړو وزارت یوازې څلویښت زره محصلین جذبولی شي.

که څه هم په زرګونو زده کوونکي د ښوونې وزارت پورې اړوندو د نیمه لوړو زده کړو موسیسو ته ورپېژل شوي، خو ویل کیږي، چې اووه څلویښت زره نور بې نتیجې پاتې دي.

د پوهنې وزارت مرستیال محمد اصف ننګ ښیا وویل، چې دا زده کوونکي به د یوې بلې ازموینې له اخستلو وروسته د دوی د نیمه لوړو زده کړو په موسساتو کې جذب شي.

د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عبیداله عبید دا د تېرو څو کلونو ستونزه وبلله، چې په وینا یې په څو ورځو کې یې حل ناشونی بریښي.

"زیاته هڅه د دې لپاره کیږي، چې هم کمیت یې زیات وي او هم کیفیت یې ښه وي، موږ څو څو واري دا خبره تکرار کړې، چې د لوړو زده کړو وزارت دا وړتیا نه لري، چې په یو مخیزه توګه په څو ورځو او اونیو کې دا ستونزه، چې له تیرو څو کلونو پاتې حل کړي."

کتونکي هم تاییدوي، چې دا ستونزه له تېرو څو کلونو موجوده ده او په وار وار لیدل شوي، چې د کانکور ګډونوالو بیا بیا د اعلان شویو نتایجو په اړه اعتراض هم کړی.

خو دوی دا خبرداری هم ورکوي، که د دې ستونزې د حل لپاره جدي اقدام ونه شي، نو نه یوازې دا، چې په لوړو زده کړو کې به انډول له منځه ولاړ شي، بلکې نوري ټولنیزې ستونزې هم له خانه سره ولري.

ناتو به جدول زمانی تعیین ...

۲۰۱۳ به حیث یک هدف برای خروج نیرو های بین المللی از افغانستان ابراز نظر کرده اند.

اندرس فوگ راسموسن با اظهار اینکه ناتو بر اساس برنامهء تعیین شده در لزبن عمل خواهد کرد، گفته است:

"ما در مسیر درست برای عملی کردن سپردن کامل مسوولیت های امنیتی به جانب افغانی الی ختم سال ۲۰۱۴ طوریکه در اجلاس لزبن فیصله شد، قرار داریم. هدف ما تغیر نکرده است. برنامهء و ارادهء ما تغیر نکرده است."

به گفتهء وی الی ختم سال ۲۰۱۳ مسوولیت کنترول آخرین ولایت افغانستان به جانب افغانی سپرده می شود.

وزیر دفاع امریکا لیون پنیتا قبل از ملاقات با ناتو در ماه فبروری گفته بود، در سال ۲۰۱۳ نیرو های امریکایی در نقش آموزگاران و مشاورین عمل خواهند کرد، اما بعد اظهارداشت که در جریان سال ۲۰۱۴ نیرو های امریکایی به جنگ ادامه می دهند. ماه گذشته حکومت رییس جمهور کرزی از وزیر دفاع امریکا لیون پنیتا خواست، در سال ۲۰۱۳ نیرو های ناتو از قریه های افغانستان خارج شده، کنترول آن مناطق را به نیرو های افغان بسپارند. اما به نظر می رسد که بعد دفتر رییس جمهور کرزی با اظهار اینکه دراین خواست نکتهء تازهء وجود ندارد، از آن عقب نشینی کرد.

اندرس فوگ راسموسن سرمنشی پیمان ناتو با اظهار اینکه در حملات شورشیان در افغانستان کاهش به عمل آمده، در بروکسل به خبرنگاران گفته است:

"با وصف آزمون ها، ما شاهد موفقیت های در عمل هستیم. حملات شورشیان در ماه جنوری و فبروری نسبت به همین موقع در سال گذشته حدود ۲۲ درصد کاهش یافته است. در حقیقت از ماه می سال ۲۰۱۱ هر ماه حملات شورشیان کمتر از ماه گذشته آن بوده است. این طولانی ترین مدت سیر نزولی حملات دشمن می باشد که توسط نیروهای آیساف ثبت شده است."

اندرس فاگ راسموسن با اعتراف اینکه شاید نگرانی های در مورد اینکه اردو و پولیس افغان نتوانند امنیت را به طور لازم تامین کنند، نزد مردم افغانستان وجود دارد، گفت: "نیروهای افغان هرروز بیشتر از روز پیش توانمندی شان راثابت میسازند وزمانی که ناتو نیروهایش را از افغانستان خارج سازد، دشمن با قوای قوی امنیتی افغان مواجه خواهد شد." اندرس فاگ راسموسن همچنان گفته است افغان ها باید خود بطور تدریجی امنیت کشورشان را خود تامین کنند، باید به پای خود ایستاده شوند و ناتو نمی تواند برای همیشه در افغانستان حضور داشته باشد. در اجلاس سران کشور های عضو پیمان ناتو که قرار است درماه می سال جاری در شهر شیکاگوی امریکا تدویر یابد، در مورد آیندهء نقش نیرو های آن پیمان در افغانستان تصمیم گرفته خواهد شد.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغانستان کې جگړه په سمه توگه مخته نه ده تللې

کرسچن ساینس مانیتور د متحد ایالاتو د جمهوري ریاست په انتخاباتو کې د امریکا د جمهوري غوښتونکي گوند د یوه کاندید نظر په افغانستان کې د امریکا د ماموریت په اړه اخیستی.

د مقالې په سرلیک کې راغلي، ډیر شمېر امریکایان له افغانستان څخه د ځواکونو د وتلو په برخه کې د جمهوري ریاست لپاره د دې هېواد د کاندید ران پاول له نظر سره موافق دي.

کرسشن ساینس مانیتور لیکي، که څه هم چې ران پاول د انتخاباتي مبارزې په لړ کې ډیر وروسته پاتې دی، خو یوه مشترکه وجه لري او هغه دا چې د امریکا له تکزاس ایالت څخه د کانگرس له دې غړې سره د امریکا خلک مخ زیاتیدونکي توگه یو نظر کیږي او هغه په افغانستان کې د جگړې مسله ده.

د ورځپاڼې په حواله کیدای شي ران پاول ونشي کړای، چې د امریکا د جمهوري ریاست په مقدماتي انتخاباتو کې بریالی شي او وروسته پاتې شي.

کرسیشن ساینس مانیتور لیکلي، له لسو کلونو را په دې خوا په افغانستان کې جگړه دوام لري او په سمه توگه مخ ته نه ده تللې.

ورځپاڼې له څو پېښو یادونه کړي چې پکې د امریکایي ځواکونو افغان متحدین وژل شوي دي، نو په دې حساب له ران پاول سره د امریکا د خلکو توافق په ښکاره توگه تر سترگو کیږي.

کرسشن ساینس مانیتور د نیویارک تایمز په حواله چې تیره اونۍ یې راپور ورکړی وو لیکي، د افغانستان د جگړې په اړه د دیموکراتان او جمهوري غوښتونکو دواړو ملاتړ کم شوی دی.

ران پاول د امریکا د استازو جرگې ته خبرداری ورکړ

چې که متحد ایالات سږکال خپل ځواکونه له افغانستان څخه ونه باسی نو بیا به د یوې بلې لسیزې لپاره په دې هیواد کې پاتې شي.

پاول وایي، د امریکا خلک په دې برخه کې له مونږ سره دي او د ورځپاڼې په وینا هغه په برخه کې کاملا سم دی.

گارډین:

بله ورځپاڼه گارډین په افغانستان کې د مخدرو موادو په اړه مقاله خپره کړی لیکي، واشنگتن دا مداخله د ترهگرۍ په اړه د مبارزې په برخه کې جگړه بولي خو اوس په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور د مخدرو موادو په نوم د یوې ناکامۍ درامې په نوم نومول شوی.

گاردین په دې مقالې کې د یوه تازه کتاب چې د تریاک ملت نومیږي او د فریبا نوا په نوم د یوه امریکایي افغاني په قلم لیک شوی یادونه کړې ده.

میرمن نوا چې په اصل کې د هرات ولایت ده هغه وخت چې د پخوانی شوروي ځواکونو پر افغانستان یرغل کړی وو له خپلې کورنۍ سره د امریکا کالیفورنیا ایالت ته تللی ده.

هغې په خپل کتاب کې په افغانستان کې د اپیمو د تجارت مسله راسپړلې. د کتاب لیکونکی خپل لوستونکې د افغانستان اوو ولایتونو ته په سفر بیایي.

هغې د دریا په نوم د یوې دولس کلنی افغان نجلۍ کیسه راخیستی چې پلار یې د خپل پور د پرې کولو لپاره یوه زاړه سړي ته ور کړی ده.

کله چې فریبا نوا خپل هدف ته نیژدې کیږي تنکۍ نجلۍ په پخې ښځې بدلیږي. میرمن نوا په خپل کتاب کې په افغانستان کې د مخدر موادو د تجارت پیچلیتا ته پام اړولی

د کتاب لیکونکي په خپل کتاب کی استدلال کوی ددې پر ځای چې لویدیځ په افغانستان کې د قربانیان د ژغورنی او د قاچاق وړونکی سزا ورکولو لپاره هڅه کوی غرب دی ته اړتیا لری چې څو په دې پوه شی چې دیرش کاله وخت یې ونیوه څو په افغانستان کې د مخدرو موادو پیاوړی شبکه جوړه شوه نو بنا دا موضوع عملی نه ښکاری چې داسی یوه پدیده دی چې د افغانستان د اقتصاد بنیاد جوړوی په لنډ مهال کې له منځه ولاړه شي.

گاردین د فریبا په حواله لیکی، د افغانستان د مخدر موادو ستونزی ته هیچ کومه لنډه، فوری او عجیب و غریبه لاره موجوده نه ده.

د بریتانوی گاردین ورځپاڼي په وینا دا د هغو کسانو لپاره چې په واشنگتن کې یې قدرت په لاس کی دی یو درس دی، دوی چې په نظر کې لری چې په افغانستان کې د دیموکراسی د معرفی کولو لپاره پروگرامونه لري باید مرکزی اسیا ته نظر وکړی چې د افغانستان د مخدرو موادو له ستونزو سره مخامخ دی.

د نارنج گل مشاعره د گډوډۍ ښکار شوه

جلال اباد، پژواک:

د ننگرهار په جلال اباد ښار کې د نارنج گل د دودیزې میلې او مشاعرې د کلیزې ۵۱مه غونډه د نړدې سلگونو شاعرانو او مینه والو په گډون د وري په ۱۵ مه په شېرزي لوبغالي کې ترسره شوه.

د نارنج گل دودیزه مشاعره، چې زرگونو مینه والو په کې گډون درلود له غرمې وړاندې د گډوډیو ښکار شوه.

دغه دودیزه مشاعره وروسته له هغه گډه وډه شوه، کله چې د چارواکو له وېناوو وروسته د یوه شاعر انتخاب کړی شعر د چارواکو خوښ نه شو او له دریځ)ستېج(څخه د مسوولینو له خوا راښکته کړی شوه.

له دې وروسته د مشاعرې گډونوالو د مشاعرې د ځای خېمې وغورځولې او هر لورې ته گډ وډې رامنځته او مشاعره ختمه شوه. په سږني مشاعره کې د کوزې پښتونخوا او له ختیځو برته د نورو ولایتونو شاعرانو گډون نه درلود او ډېرو شاعرانو په کې د شعر ویلو چانس ترلاسه نه کړ.

نارنج گل دودیزه مشاعره د دولتي چارواکو، د ننگرهار د اطلاعاتو او کولتور د رییس اورنگ صمیم، د مرستیال والي حنیف گردیوال او د کولتور وزارت د ځوانانو د چارو معین تیمور شاه اسحاقزي د اوږدو وېناوو له امله په لس نیمو بجو پیل شوه.

د غونډې په پیل کې د هېواد مشهور لیکوال او خبرونکی محمداصف صمیم سږنی مشاعره د (شیخ مصري ښارگوټی) وباله او زیاته یې کړه، چې په دې تنگه ساحه کې ډېر خلک نه ځایيږي.

استاد صمیم پر گډونوالو او شاعرانو د زغم پیداکولو غږ وکړ او په چارواکو یې نیوکه وکړه، چې له یوه کال څنډ وروسته د مینه والو او گډونوالو وخت په خپلو تکراري وېناوو تېروي.

د نورو کلونو پر خلاف د نارنج په سږنیو شعرونو کې ولس پوهنې، وینېتیا، رغونې او ملي یووالی ته رابلل شوی و.

د مشاعرې یوه گډونوال ضیاء الرحمن حسرت او بل شاعر مطیع الله سراچه وال د کندهار په پنجوايي پېښه نظمونه لیکلي وو، چې په اوربدلو یې د گډونوالو له سترگو اوښکې وبهېدې، نورو شاعرانو بیا په انتقادي ریالیزم کې چارواکي، اداري فساد، اختلاس او د پاکستان نا امنیو ته اشاره کړې وه.

لیکوال او شاعر عزت الله ځواب پژواک ته وویل، چې مشاعره ډېره بې خونده، پېکه، سانسور شوې او بې نظمه وه.

هغه زیاته کړه، چې چارواکو د شاعرانو د پراخ گډون له وېرې څو ورځې وړاندې چا ته خبرتیا نه وه ورکړې او بواځې یوه ورځ وړاندې یې د ننگرهار ټلویزون له پردې اعلان کړی و.

خو د ننگرهار اطلاعاتو او کولتور رییس اورنگ صمیم ونه منله چې دوی د مشاعرې لپاره تابیه نه درلوده.

صمیم وویل، شل ورځې وړاندې یې اړوند کمېټې ته د شعرونو سپارلو غوښتنه کړې وه.

د نوموړي په وینا، دا چې د کوزې پښتونخوا او لرو پرتو ولایتونو ځینې شاعرانو په کې گډون نه درلود، دا د هغوی کار دی.

د اطلاعاتو او کولتور رییس د دې پوښتنې په ځواب کې، چې ولې مشاعره د گډوډۍ ښکار شوه، پژواک ته وویل، یوه شاعر غوښتل بې نوبته شعر ووایي، چې دا د اصولو خلاف کار و؛ ځکه مشاعره د گډوډۍ ښکار او ختمه شوه.

د هېواد یوه نقاد شاعر مطیع الله تراب پژواک ته وویل، چې له خوسته د نارنج گل په مینه او هیله راغلی و.

نوموړي زیاته کړه: "نارنج گل د ولس مشاعره ده او کومه مشاعره چې د دولتي غوړه مالانو په ولکه او دېوالونو کې ایساره وي، زه په کې گډون نه کوم."

د یادونې ده، چې د ملت د بابا محمدظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال په ۱۳۴۰ لمریز کال کې د جلال اباد ښار په سپین غر هوټل کې د ۴۰ شاعرانو په گډون د نارنج گل د میلې او مشاعرې بنسټ اېښودل شوی، چې اوس هر کال د پسرلي په پیل کې په دودیزه بڼه ترسره کېږي.

د دې ترڅنگ په هر پسرلي کې د هېواد په نورو سیمو کې د منې گل، بادام گل مشاعره، سنځل گل مشاعره، انار گل، ریدي گل، د نښتر مشاعره، کونړ سیند مشاعره، هلمند ځپاند سیند مشاعره او یو شمېر نورې مشاعرې هم جوړیږي.

بخش مهم کمک های ایتالیا به بازسازی و ساخت سرک ها اختصاص دارد

کابل، رسانه ها:

ایتالیا ۱۵ میلیون دالر را در بازسازی بیش از ۳۵ کیلومتر سرک در ولسوالی شیندند ولایت هرات مصرف می کند. به اساس معلومات ارایه شده بخش عمده کمک های مالی ایتالیا در ۱۰ سال گذشته برای افغانستان به بازسازی و ساخت سرک ها اختصاص یافته است.

کار بازسازی نزدیک به ۱۲ کیلومتر این سرک ها قبلاً آغاز شده و تفاهمنامه تخنیکی بخش دوم این پروژه به روز سه شنبه میان وزیر فواید عامه افغانستان، سفیر ایتالیا و نماینده مرکز خدمات پروژه یی سازمان ملل متحد در کابل به امضا رسید.

در این مراسم سفیر ایتالیا در کابل ساخت سرک ها را برای پیشرفت افغانستان بسیار مهم خواند. لوچانو پتزوتی گفت که در ۱۰ سال گذشته بیشتر کمک های کشورش به بازسازی و ساخت سرک ها در افغانستان صورت گرفته است: "سرکها مردم را با هم وصل می کند و تجارت را گسترش می دهد. سرکها، خط آهن و مخابرات یک بخش مهم آینده شما را تشکیل می دهد. به همین خاطر یک بخش بزرگ کمک های ما به بازسازی و ساخت سرک ها اختصاص دارد."

مسوولان وزارت فواید عامه افغانستان می گویند، کار بخش اول پروژه بازسازی سرک های ولسوالی شیندند ولایت هرات که از سوی مرکز خدمات پروژه یی سازمان ملل متحد تطبیق می گردد، حدود هفت ماه پیش آغاز شده و قرار است تا دو سال دیگر تکمیل گردد. نجیب الله اوژن وزیر فواید عامه افغانستان کمک های ایتالیا در بخش ساختن سرک های این کشور را ارزنده خواند و خواهان ادامه این همکاری ها شد. آقای اوژن ابراز امیدواری کرد تا کار این پروژه به زودی تکمیل و به بهره برداری سپرده شود:

"کار بخش ۱۱ عشاریه ۹ کیلومتر سرک به صورت پخته و اساسی و همچنان کار ۵ کیلومتر آن فعلاً در جریان است. بخش سوم آن که ۱۰ کیلومتر اضافی را در بر می گیرند، تحت پروسه تدار کاتی قراردارد و امیدواریم که کار آنرا نیز به زودی آغاز کنند. وزارت فواید عامه توقع دارد تا این کمک ها به پیمانه وسیع تر در سایر پروژه ها از سوی دولت ایتالیا ادامه یابند."

این نخستین کمک ایتالیا برای بازسازی و ساخت سرک ها در افغانستان نیست. به گفته مسوولان وزارت فواید عامه افغانستان در ۱۰ سال گذشته این کشور بیش از ۲۵۰ میلیون دالر را در این بخش به مصرف رسانده است.

در عین حال کار ساخت بیش از ۱۳۵ کیلومتر سرک از ولایت میدان وردگ تا کوتل اونی بامیان نیز به کمک مالی نزدیک به ۱۳۰ میلیون دالر این کشور ادامه دارد. به اساس معلومات سفیر ایتالیا در کابل، بیش از ۵۰ کیلو متر این سرک ساخته شده و قرار است کار این پروژه پیش از سال ۲۰۱۴ به پایان برسد.

ملا ضعیف د سولي د خبرو...

له پرزېدو وروسته د۲۰۰۲ کال په جنوری کې پاکستانیانو ونیوه او امریکایانو ته یې وسپاره. دی څو کاله په گوانتنامو کې بندي و. ښاغلي ضعیف د نیول کېدو او د گوانتنامو په زندان کې د خپلو لیدلو کتلو یادداشتونه لیکلي او د کتاب په بڼه یې خپاره کړي دي. دا کتاب په گڼو ژبو ژباړل شوي دی.

طالب ویندویان تر حکومتي...

ډیرو اړیکو وروسته د هغوی وخت ضایع کوي او د ورځې په پای کې بیا د ښښنې په غوښتني ځان تېروي.

په همدې حال کې کابل میشتي خبریالان هم له حکومتي ویندویانو او د وزارتونو د مطبوعاتي دفاترو له ریسانو او اړوندو چارواکو څخه شکایت کوي.

یو شمیر کابل میشتي خبریالان وایي چې ډیری ویندویان حتی د عادي مسایلو په باب هم د حکومت دریځ د وزیرانو او معینانو له اجازې پرته نه شي څرگندولای او خبریالان په ساعتونو ساعتونو د دغو ویندویانو ځواب ته منتظر پاتي وي.

هغوي د بیلگي په توگه د دفاع، کورنیو چارو، ولسمشری مانی، سرحداتو او ملي امنیت د ویندویانو له نه حاضریدو شکایت کوي.

په کابل کې د راه نو ورځپاڼې خبریال هاشم سرحدي وایي دوی څو ځله د دفاع وزارت ویاند جنرال ظاهر عظیمي سره په ملي اردو کي د مخالفینو دنفوذ د مخنیوي لپاره د مرکي او حتی د یوي تلیفوني اړیکي د برقرارولو هڅه کړې خو نه یوازي دا چې د دوی غوښتني ته مسولانه ځواب نه دی ورکړل شوی بلکې د جنرال عظیمي د یاور او هغه کس له لوري چې د عظیمي تلیفون ورسره وي دوی ته سپکې سپورې ویل شوي دي.

جنرال عظیمي د افغان ملي دفاع وزارت هغه ویاند دی چې له تیرو لسو کلونو راهیسي دغه دنده پر مخ بیایي او د هغه په امر تیر کال د آزادي راډیو، شمشاد تلویزیون او ځینو نورو خبري چینلونو خبریالان د ملي دفاع وزارت په عمومی دروازه کي د ولسمشر له دفتر څخه یوازي څو متره لري وهل شوي ول او ورته سپکي سپوري ویل شوې وې.

وروسته جنرال عظیمي د خپل یاور داود له دغه کار څخه ښنه وغوښته او وویل چي خپل دغه یاور ته به د پوځ د اصول نامي مطابق جزا ورکړي خو نه یوازي دا چي تر اوسه دا کار نه دی شوی داود نومی په یوه بله رتبه، چي جگړنې ده، نازول شوی هم دی.

خبریالان د افغان دولت د ویندویانو په نسبت د طالبانو او ایساف د ویندویانو له سلکو څخه خوښ دي.

هغوي وایي د طالبانو دوه منسوب ویندویان قاري یوسف او ذبیح الله مجاهد، که څه هم په اصل کې وخت ناوخت بدلیږي، خو تلیفوني شمیرې او مسولیت یې مالوم او خبریالانو ته پر هره موضوع پر وخت مالومات ورکوي.

خبریالان د افغان حکومتي ویندویانو په پرتله طالب ویندویان د مطبوعاتو اصولو ته ژمن او پا بند بولي.

هغوی حکومتي ویندویان تورنوي چي نه شي کولای د فاسدو چارواکو او د حکومت د مامورنیو د غیر قانوني کړنو د سپیناوي لپاره په رسنیو کې را څرگند شي نو ځکه هڅه کوي چي د راډیو له مایک او د ټلویزیون له کمرې ځانونه لري وساتي.

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولی یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ
اونیزه
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه. کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com